د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز

# تحلیل هفته

**ګڼه: 449**

( 17 میزان – 24 میزان 1403 هـ ش)

## د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ په ۷۹یمه غونډه کې د غزې (فلسطین) د کړکېچ انعکاس




دا نشریه د افغانستان او سیمې د مهمو سیاسي، امنیتي، اقتصادي او ټولنیزو پېښنو د تحلیل اوونیزه خپرونه ده چې د ستراتیژیکو او سیمه‌ییزو څېړنو مرکز له لوري په پښتو، دري، انګلیسي او عربي ژبو چمتو کېږي او خپرېږي.

## په دې ګڼه کې لولئ:


- د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ په ۷۹یمه غونډه کې د غزې (فلسطين) د کړکېچ انعکاس..........3
- د فلسطين د اوسني کړکيچ په اړه د هېوادونو دريځونه او چلندونه .....................................3
- پايله ..........................................................................................................7
- وړانديزونه .................................................................................................8
- سرچينې .....................................................................................................8


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

## د ملګرو ملتونو د عمومي اسمبلۍ په ۷۹یمه غونډه کې د غزې (فلسطين) د کړکېچ انعکاس

### سریزه

د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ کلنۍ غونډه چې د ملګرو ملتونو له جوړېدو وروسته په کال کې یو ځل ترسره کېږي، سږ کال يې۷۹یمه غونډه د سپټمبر له ۲۴مې تر ۲۸مې د نیویارک په ښار کې د ملګرو ملتونو د عمومي غونډو په تالار کې ترسره شوه. د ملګرو ملتونو د ویاند د څرګندونو له مخې، د سږ کال په غونډه کې ٧٦ ولسمشرانو، ۴ ولیعهدانو، ۲ لومړیو وزیرانو، ۴۲ د لومړی وزیر مرستیالانو، ۹ وزیرانو، ۵۴ مرستیال وزیرانو او د اروپايي اتحادیې پلاوو ګډون کړی و. د سږني کال (۷۹) عمومي غونډې موضوع یا اجنډا دا وه: «هیڅوک شاته نه پرېږدو، د سولې لپاره هڅې، د اوسنیو او راتلونکو نسلونو د دوامداره پرمختګ او انساني کرامت د ودې لپاره ګډ اقدام». خو سږ کال د ملګرو ملتونو عمومي غونډه په داسې حال کې ترسره شوه چې نړۍ په جدي توګه په خونړیو بحرانونو کې ډوبه ده چې تر ټولو مهمه يې د غزې جګړه او د هغې سیمه ییزې او نړیوالې پایلې دي. که څه هم ملګرو ملتونو د سږنۍ غونډې اجنډا ټاکلې وه، خو د فلسطین د کړکېچ ژوربدل چې ټول منځنی ختیځ يې د جګړې کندې ته غورځولی دی، ددې لامل شو چې د نړۍ ټول مشران تر ټولو مرکزي بحث د فلسطين پر مسئلې متمرکز کړي. په دې لیکنه کې به د فلسطین د مسئلې په اړه د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلۍ په سږنۍ غونډه کې د نړۍ د مهمو هېوادونو د مشرانو دریځونه مطرح شي.

### د فلسطین د اوسني کړکیچ په اړه د هېوادونو دریځونه او چلندونه

#### ۱- ایران

د ایران دریځ او چلند د یوازیني هیواد په توګه چې په حقیقت کې د اسرائیلو د رژیم پر وړاندې ولاړ دی ډېر مهم دی. سږ کال د ایران په استازیتوب د دغه هېواد ولسمشر مسعود پزشکيان د ملګرو ملتونو د عمومي غونډې په تالار کې وینا وکړه. که څه هم د ایران د ولسمشر له خبرو څخه نسبتاً نرم او د پخلاینې دریځ څرګند شو، خو د فلسطین د اوسني کړکېچ او د غزې پر ښار د اسرائیلو د برید اړوند له نیوکو او غندنې ډکې وې. هغه د احصائیو او ارقامو په وړاندې کولو او په غزه کې د صهیونیسټ رژیم د جنایتونو په بیانولو سره د حماس دفاع وکړه. د هغه په وینا فلسطینیانو له اوو لسیزو تیریو او وژلو وروسته له غاصب صهیونیسټ رژیم څخه د خپلو حقوقو د ترلاسه کولو غوښتنه کړې ده. هغه د فلسطین د خلکو مبارزه وستایله او د هغو کړنې يې د فلسطین د ازادۍ غوښتونکي وبللې او د فلسطين له خلکو یې د خپل هیواد ملاتړ څرګند کړ. هغه د فلسطین د کړکیچ د پای ته رسولو اصلي حل لاره په ټول فلسطیني خاوره کې د مسلمانانو، عیسویانو او یهودانو ترمنځ د یوه واحد دولت د جوړولو لپاره د ټولپوښتنې ترسره کول وګڼل چې البته دا وړاندیز به د

اسراییلو په استثنا سره ترسره شي. دي ته په پام سره چې د ایران د ولسمشر عمومي دریځ سوله ییز او پخلاینه وه، فکر کیږي چې د فلسطین د مسئلې په اړه د ایران عمومي دریځ له سخت دریځۍ څخه په دفاعي او سولیز دریځ باندې بدل شوی دی. چې دا کولی شو د پزشکیان له دې وړاندیز څخه چې وویل «هیواد یې چمتو دی چې له نورو سره د رغنده تعامل نوی دور پیل کړي» واخلو.

**۲- ترکیه**

د ترکیې ولسمشر اردوغان لومړی په خپلو خبرو کې د یو دوست او ورور هېواد په توګه د فلسطین د استازي په شتون خوښي څرګنده کړه او هیله یې څرګنده کړه چې یوه ورځ به د فلسطین استازی په ملګرو ملتونو کې خپل حق او وړ مقام ترلاسه کړي. په غزه کې د اسرائیلي رژیم د اقداماتو په اړه د هغه دریځونه ډېر سخت وو. هغه په غزه کښې د اسرائیلو د صهیونیسټ رژیم جنایتونو ته په اشارې سره او د صهیونیسټ رژیم د جنایتونو د ژورتیا په بیانولو سره چې په غزه کښې د صهیونیسټ رژیم له خوا ترسره کیږي هم د اسرائیلو د رژیم په کنټرولولو کې د ملګرو ملتو په اقداماتو نیوکه وکړه او هغه یې ضعیفه وبلله. هغه له نړۍ وپوښتل چې د اسراییلو د جنایتونو د بندولو لپاره د څه شي په تمه یاست؟ ولې د اسرییلو د کړنو مخنیوی نه کوې؟ هغه هغو هېوادونو ته چې د اسراییلو ملاتړ کوي وویل، تاسو په کوم ضمیر سره دا ذلت زغمې؟ هغه د فلسطین د خلکو مقاومت مشروع او د ویاړ وړ وباله او ویې ویل چې دا اسرائیل دی چې نه غواړي موافقه وشي. ځکه چې اسراییل په مختلفو بهانو او دریځونو په بدلولو سره د خبرو اترو مخکې تګ سره خنډونه پیدا کوي. هغه وړاندیز وکړ: کله چې د امنیت شورا ۲۷۳۱ پریکړه لیک عملي نه شي، د اسرائیلو پر ضد باید سخت اقدامات وشي. هغه د سمدستي او غیر مشروط اوربند وړاندیز وکړ او غوښتنه یې وکړه چې د ژمي تر رارسیدو د مخه دې غزې ته مرستې واستول شي. اردوغان د ترکیې د اقداماتو په اړه وویل چې موږ له اسرائیلو سره خپل تجارت پرې کړی او تر هغه به خپلې مبارزې ته دوام ورکوو تر څو چې فلسطیني ولس خپل حق نه وي ترلاسه کړی او اسرائیلو ته به اجازه ورنه کړو چې زموږ په لومړۍ قبله باندې یرغل وکړي. موږ د عدالت نړیوالې محکمې ته د اسراییلو په وړاندې د جنوبي افریقا د اعتراض قضیې ملاتړ کوو. د اردوغان په وینا د بحران اصلي ریښه د اسراییلو لخوا د فلسطین د ځمکو اشغال دی. له همدې امله، د دوه دولتونو حل پر بنسټ د یو خپلواک فلسطیني دولت جوړېدل چې ختیځ بیت المقدس یې د پلازمینې په توګه وي، دا کړکیچ پای ته رسوي.

**۳- پاکستان**

د پاکستان لومړي وزیر شهباز شریف هڅه وکړه چې د پاکستان اقتصادي ستونزې روښانه کړي او د نړۍ پام د پاکستان له اقتصادي بې وزلۍ سره مبارزې ته واړوي، خو د خپلې وینا مهمه برخه یې د فلسطین مسئلې او د صهیونیستي رژیم جنایتونو ته ځانګړې کړه. شریف په غزه کې د اسراییلو جنایتونه نسل وژنه وبلله او د اسراییلو د تیري د پای ته رسولو لپاره یې د نړیوالې مداخلې وړاندیز وکړ. هغه د ۱۹٦۷ کال د

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

سرحدونو پر بنسټ د ختیځ بیت المقدس د پلازمینې په توګه د یوه خپلواک فلسطیني دولت د جوړولو غوښتنه وکړه، چې په سیمه کې د اوسني کړکېچ وروستۍ حل لاره ده.

**۴- عربي هېوادونه**

عربي هیوادونه چې باید د فلسطینیانو تر ډېره حمایت وکړي، د غزې د اوسني کړکیچ او د صهیونیستي رژیم له جنایتونو سره په مقابله کې یې کمزوري او ساده دریځ خپل کړ او په ساده ډول یې ترې ځانونه تېر کړل. دبیلګې په توګه دسعودی عربستان خارجه وزیر دصهیونیسټ رژیم د جنایتونو په غندلو سره د غزې له خلکو سره یې د خپلو مرستو یادونه وکړه . بله بېلګه یې د فلسطین د مسئلې په اړه د متحده عربي اماراتو د بهرنیو چارو د وزیر دریځ و. د متحده عربي اماراتو د بهرنیو چارو وزیر هم د غزې وضعیت نازک وباله او په غزه کې یې د سمدستي اوربند وړاندیز وکړ. دغه راز د اماراتو د بهرنیو چارو وزیر د دوه دولتونو حل لارې په اساس د ختیځ بیت المقدس د پلازمینې په توګه د یوه خپلواک فلسطیني دولت جوړول د فلسطین له کړکیچ څخه د وتلو اصلي لاره وبلله. نورو عربي هیوادونو هم سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو ته ورته دریځونه درلودل او د فلسطین د اوسني کړکیچ او ناورین په اړه یې کوم نوی وړاندیز نه دی کړی.

**۵- د اسرائیلو صهیونیسټ رژیم**

د ملګرو ملتونو په عمومي اسامبلۍ کې د اسرائیل د غاصب او صهیونیستي رژیم د لومړي وزیر بنیامین نتانیاهو وینا ډېره شدیده وه. نتانیاهو په خپله وینا کې د غزې د بې وزله خلکو او د لبنان د خلکو په وړاندې د خپلو بریدونو په کلکه دفاع وکړه. هغه پر غزې، لبنان او یمن خپل بریدونه په دې دلیل روا وبلل چې حماس د اسرائیلو وګړي یرغمل کړي، د لبنان حزب الله د حماس په ملاتړ پر اسرائیلو بریدونه کوي او د یمن حوثي یاغیان د اسرائیلو ګټې او اهداف په نښه کوي. هغه ایران ته د مستقیم برید ګواښ هم وکړ. هغه وویل چې زه د ایران واکمنانو ته یو پیغام لرم: که تاسو پر موږ برید وکړئ، موږ به پر تاسو برید وکړو. په ایران کې هیڅ ځای زموږ د لاسرسي څخه بهر نه دی او ټول منځنی ختیځ د دې شاهد دی. نتانیاهو د نورو مسلو په اړه هم یادونه وکړه چې ټول د فلسطین مسلې پورې تړاو درلوده. د دوو مختلفو نقشو په ښودلو سره یې هڅه وکړه چې خپل غاصب رژیم د سولې غوښتونکی او د ټولې سیمې له اقتصادي پرمختګ سره لېواله وښیي. هغه په خپلو دروغو سره چې نمایش ته یې وړاندې کړل په حقیقت کې د سعودی عربستان په راس د اسراییلو سره د عربي هېوادو یوالي ته اشاره کوي. چې د هغه په وینا، د "ابراهیمي سوله" د هغې ژمنه ده. البته د نتانیاهو وینا په داسې حال کې وشوه چې د سعودي عربستان د بهرنیو چارو د وزیر په ګډون د ډېرو هېوادونو استازي په اعتراض کې له تالار وتلي وو. په ټولیزه توګه د نتانیاهو په وینا کې د هغه ناوړه هوډ او د غاصب رژیم د حماس لره په بشپړه توګه له منځه وړلو لپاره د غزې پر ضد جګړې ته دوام ورکول وو.

**٦- امریکا متحده ایالات**

د امریکا ولسمشر جوبایډن په غزه کې د صهیونیستي رژیم د نسل وژنې د اقداماتو په تائیدولو سره د صهیونیستي رژیم له خوا د فلسطینیانو وژنه په احمقانه منطق سره توجیه کړه او ویې ویل «هر هیواد حق لري چې د اکتوبر د اوومې نېټې په شان بله حمله بیا ترسره نه شي» هغه د اسرائیلو د کړنو په باره کې ټینګار وکړ چې له حماس او حزب الله سره د اسرائیل جنګ باید په سیمه ییز جنګ بدل نه شي او په کار ده چې له اوسني بحران څخه د وتلو لپاره ډیپلوماټیک اقدامات ترسره شي. البته بایډن ونه شو کولی د غزې نازک وضعیت له پامه وغورځوي. لکه څنګه چې هغه په شرم سره اعتراف وکړ چې په غزه کې د ملکي خلکو وضعیت خورا نازک دی او جدي پاملرنې ته اړتیا لري. که څه هم بایډن د شخړې حللاره د دوو دولتونو د جوړولو وړاندیز یادونه وکړه، خو هغه پر غزې د اسرائیلي رژیم د بریدونو د پای ته رسېدو لپاره هیڅ یادونه ونه کړه، چې دا په غزه کې د اسرائیلي رژیم د بریدونو او عملیاتو د دوام لپاره د امریکامتحده ایالاتو ملاتړ ته اشاره کوي.

### ۷- اروپايي هېوادونه

د اروپايي هېوادونو په منځ کې د دریو سترو قدرتونو بریتانیا، جرمني او فرانسې دریځ تر ټولو مهم و. د برتانیې دریځ چې د هغه هیواد د لومړي وزیر څخه واوریدل شو، په بشپړه توګه د محتویاتو څخه بې برخې و او د غزې د بې دفاع خلکو په وړاندې د اسراییلو د وحشیانه جګړې د پای ته رسولو لپاره اساسي حللاره نه وه. هغه په ساده ډول له دواړو خواوو وغوښتل چې سمدستي اوربند ته پام وکړي، خبرداری یې ورکړ چې د اسراییلو او حزب الله ترمنځ جګړه کولی شي ټوله سیمه ګډوډۍ ته واړوي. نوموړي د فلسطین د مسئلې په اړه د فلسطیني دولت د جوړیدو په اړه کلک او بې اساسه دریځونه تکرار کړل، خو دا یې ونه ویل چې اسرائیل باید اوس څه وکړي. د آلمان د بهرنیو چارو وزیر د بریتانیا د لومړي وزیر په مقابل کې، چې د فلسطین مسئله یې له پامه غورځوله، په دې برخه کې سخته وینا وکړه. د صهیونیستي نیواکګر رژیم د اویا کلنو جنایتونو په بې شرمۍ او بشپړې سترګې پټولو سره یې، اصلي پړه پر فلسطینیانو واچوله او د اسرائیلو دغه وحشیانه اقدام یې یو مشروع او مناسب اقدام وباله. سربېره پردې، هغه د اسراییلو د جنایتونو د دوام لپاره د خپل هیواد ټینګ ملاتړ اعلان کړ. د فرانسې ولسمشر په خپله وینا کې د فلسطین مسئلې په اړه دوه مخیتوب معیار تکرار کړ. هغه په اسرائیلو کې د حماس عملیات وغندل او هم په غزه کې یې د اسرائیلو د عملیاتو ملاتړ وکړ. ترڅنګ یې د غزې د خلکو ناوړې حالات او هلته یې اوسنی وضعیت د منلو وړ ونه باله.

### ۸- روسیه او چین

سږ کال د ملګرو ملتونو په عمومي اسمبلۍ کې د روسیې او چین بهرنیو چارو وزیرانو هم ویناوې وکړې. دا اقدام د دغو دواړو هېوادونو د ولسمشرانو له خوا د دغې غونډې ته یو ډول بې ارزښتوب ښایي. د روسیې او چین د بهرنیو چارو د وزیرانو وینا تر ډېره د هغو محورونو په شاوخوا کې ګرځېدله چې د دواړو هېوادونو د بهرني سیاست په لومړیتوبونو کې شامل دي. له همدې امله یې د فلسطین د کړکېچ په اړه کومه

نوې خبره وړاندې نه کړه. د دواړو هیوادونو د بهرنیو چارو وزیرانو په غزه کې د اسرائیلو په کارکردګۍ د نیوکې ترڅنګ د فلسطین د کړکیچ د دایمي حل لپاره د دوو دولتونو جوړول د حل لاره وبلله او په غزه او لبنان کې یې د اسرائیلو د عملیاتو په سمدستي بندولو ټینګار وکړ.

**پایله**

په اوسني وخت کې د حماس، ایران او د مقاومت د محور په نوم د فلسطین او اسرائیلو څو اړخیزه جګړه د منځني ختیځ د سیمې په کچه په یوه بشپړ بحران بدل شوی دی او که دا نور هم وغځیږي، د پراخیدو امکان یې شته. له همدې امله د ملګرو ملتونو د سږني عمومي اسامبلې په عمومي بحث کې د نړۍ ټولو مشرانو دغه موضوع مطرح کړه او په دې اړه یې خپل دریځونه څرګند کړل. په مجموع کې د فلسطین د روان کړکیچ په اړه د هیوادونو دریځونه څلورو ډوله وو. لومړی دریځ د ایران لخوا وړاندې شو. ایران له پخوا څخه د فلسطین د مسئلې په اړه په بشپړه توګه مختلف دریځ درلود چې دا ځل د دغه هیواد د ولسمشر له خوا تکرار شو. د ایران ولسمشر دا ځل وویل، د فلسطین د مسئلې یوازینۍ حل لاره د یو متحد فلسطیني دولت د جوړولو لپاره د مسلمانانو، یهودانو او مسیحیانو په ګډون د ټولو فلسطینیانو ټولپوښتنه ده. د دې دریځ په مقابل کې، د اسراییلي رژیم دریځ شته دی، چې یو خپلواک فلسطیني دولت په هیڅ صورت نه شي زغملی. دریم دریځ د عربي او اسلامي هیوادونو وو. له استثناء پرته ټول عربي او اسلامي دولتونو په دې شرط چې ختیځ بیت المقدس دې د فلسطین پلازمېنه وي، د دوو دولتونو، فلسطین او اسرائیلو د جوړولو د حل ملاتړ کوي. څلورم دریځ هم د امریکامتحده ایالاتو، روسیې، چین او ځینو نورو هېوادونو په ګډون د اروپایي هېوادونو د ولسمشرانو له خوا وړاندې شو، چې له کوم ځانګړي شرط پرته د دوه خپلواکو هېوادونو حللاره یې یاده کړه. سره له دې چې دغه وړاندیزونه په نظري بڼه وړاندې شو، خو د غزې او حماس پرضد د جنګ د بندولو لپاره د صهیونیسټ رژیم پرضد اساسي حل او فشار وړاندې نه شو . په ټولو هیوادونو کې یوازې ایران په حقیقت کې د حماس او حزب الله او نورو هغو ډلو ملاتړ کوي چې د مقاومت محور بلل کیږي، په داسې حال کې چې لویدیځ هیوادونه په کلکه د اسرائیلي رژیم ترڅنګ ولاړ دي او له دغه رژیم سره هر اړخیز مالي او نظامي مرستې کوي. لویدیځوال د فلسطین د کړکېچ په اړه دوه ګونی سیاست پرمخ بیایي. له یوې خوا د غزې د خلکو لپاره د هسې اوښکې تویوي او له بلې خوا اسراییلو ته وسلې ورکوي. دوی له یوې خوا د غزې وضعیت د تشویش وړ بولي او له بلې خوا یې د دغو خلکو په وژلو کې له اسرائیلي رژیم سره لاس یو کړی دی. هغه څه چې درد زیاتوي د فلسطین د کړکیچ په وړاندې د عربي هیوادونو غیر فعال او پر دغه وضعیت د سترګو پټولو دریځ دی. د دې پېښې په لیدلو سره عربان د خپلو خپلوانو د وژلو شاهدان دي او نړۍ ته یې یوازینۍ ویاړ د غزې له مظلومو او بې ځایه شویو سره مرسته ده، چې په هیڅ ډول دوی پدې شکل خپل مسؤلیت نه شي رفع کولی. حتی ویل کیږي چې دوی د حماس د ځپلو لپاره په پټه له اسراییلو سره تړونونه کړي دي.



Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

کوم څه چې حتی نتانیاهو د وینا د محتوا د تحلیل څخه هم اخیستل کیدی شي. په حقیقت کې د نتانیاهو زړورتیا چې موږ یې د هغه په وینا کې شاهدان یو، د لسګونو عربي هیوادونو د عاجزۍ نښه ده او ښکه کولی شي نتانیاهو په بې رحمۍ سره د حماس په وړاندې د جګړې د دوام غوښتنه وکړي تر هغه چې هغه بشپړ ویجاړ شي.

## وړاندیزونه

د هغه څه له مخې چې پورته وویل شول، دا وړاندیز کیږي چې:

1. مسلمان ملت باید په دې تاریخي حالت کې خپل تاریخي مسوولیت ومني او د اسرائیلو د لا زیاتو جنایتونو مخه ونیسي.
2. عرب او غیر عرب مسلمان ولسونه باید د مظاهرو، اعتصابونو او نورو اغیزمنو اقداماتو له لارې خپل حکومتونه دې ته اړ کړي چې د اسرائیلو او لویدیځ پر وړاندې جدي اقدام وکړي.
3. نن سبا اسلامي نړۍ د خپلو ظرفیتونو په درلودلو سره نړیواله ټولنه دې ته اړ کړي چې د فلسطینیانو په وړاندې د اسرائیلو له جنایتونو څخه ډډه وکړي.
4. اسلامي هیوادونه او نور هیوادونه چې د فلسطین ملاتړ کوي باید د فلسطین دولت ته په ملګرو ملتونو کې د بشپړ غړیتوب ورکولو لپاره اړین فشار راوړي.

## سرچینې


1- د ایران ولسمشر د وینا په لیکلی بڼه:
https://abidjan.mfa.ir/portal/newsview/753851/%D9%85%D8%AA%D9%86-%DA%A9%D8%A7%D9%85%D9%84-%D8%B3%D8%AE%D9%86%D8%B1%D8%A7%D9%86%DB%8C-%D8%B1%DB%8C%DB%8C%D8%B3-%D8%AC%D9%85%D9%87%D9%88%D8%B1-%D9%85%D8%AD%D8%AA%D8%B1%D9%85-%DA%A9%D8%B4%D9%88%D8%B1%D9%85%D8%A7%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%D9%85%D8%AC%D9%85%D8%B9-%D8%B9%D9%85%D9%88%D9%85%DB%8C-%D8%B3%D8%A7%D8%B2%D9%85%D8%A7%D9%86-%D9%85%D9%84%D9%84-%D9%85%D8%AA%D8%AD%D8%AF

2- د ترکیې ولسمشر د وینا لینک:
https://www.youtube.com/watch?v=BARlIoAx3nA

3- د پاکستان د لومړی وزیر وینا:
https://www.youtube.com/watch?v=kNTS02HW8mM

4- سخنرانی شاهزاده فیصل بن فرحان به نمایندگی از کشورمان در 79مین مجمع عمومی سازمان ملل در نیویورک. لینک متن سخنرانی:
https://www.spa.gov.sa/fa/N2179609

5- د ناتانیاهو د وینا متن:
https://www.youtube.com/watch?v=70L1C7aTOxA

6- د جوبایدن د وینا متن:
https://www.state.gov/translations/persian/%D8%B3%D8%AE%D9%86%D8%B1%D8%A7%D9%86%DB%8C-%D9%BE%D8%B1%D8%B2%DB%8C%D8%AF%D9%86%D8%AA-%D8%A8%D8%A7%DB%8C%D8%AF%D9%86-%D8%AF%D8%B1-%D9%87%D9%81%D8%AA%D8%A7%D8%AF-%D9%88-%D9%86%D9%87%D9%85%DB%8C%D9%86 /

7- PM United Nations General Assembly Speech: 26 September 2024. Available at:https://www.gov.uk/government/news/pm-united-nations-general-assembly-speech-26-september-2024


Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

8- Speech by Foreign Minister Annalena Baerbock at the 79th General Debate of the United Nations General Assembly New York. Available at: https://www.auswaertiges-amt.de/en/newsroom/news/-/2677832
9- Speech by M. Emmanuel Macron, President of the Republic (New York, September 25, 2024) available at: https://franceintheus.org/spip.php?article11573
10- https://mid.ru/en/foreign_policy/news/1972774/

Center for Strategic and Regional Studies (CSRS)

د ستراتېژيکو او سيمه‌ييزو څېړنو مرکز نادولتي، غير انتفاعي او خپلواک ارگان دی، چې په ۱۳۸۸ لمريز کال کې په کابل کې جوړ شوی. دغه مرکز د خپلو بې‌پرې او کره څېړنو له لارې، په افغانستان او سيمه کې د پاليسيو د ارزونې او بډاينې لپاره فعاليت کوي.

**اړيکه:**

ايميل: csrskabul@gmail.com info@csrskabul.com

وب سايت: www.csrskabul.net - www.csrskabul.com

شمېره: +93780618000 +93780618000